بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۱ کب ۱۴۰۳ هـ ش | ۱ رمضان المبارک ۱۴۴۶ هـ ق | ۱ مارچ ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۹۲)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړی والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات د کندهار ولايت له مرافعه محکمې څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ۱۸/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په داسې حال کې چې د کندهار ولايت د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو ټولو قضائي غړو شتون درلود؛ له مرافعه محکمې څخه ليدنه وکړه.

د ليدنې په پيل کې د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب له قضائي غړو سره غونډه وکړه؛ ياده غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه.

وروسته محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د ناستې ټولو ګډونوالو ته په خطاب کې وويل، ټول قضائي او اداري کارونه د اصولو مطابق په ټاکلي وخت کې ترسره کړئ، ترڅو د خلق الله کارونه له ځنډ او خنډ سره مخ نه شي.

محترم شيخ صاحب حاضرينو ته هدايت وکړ چې له اصحاب دعوی سره ښې پرې او نېک چلند وکړئ او کارونه يې له ټاکلي وخت مخکې ورته اجرا کړئ.

دغه راز د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات د يادې محکمې ټولو قضائي او اداري منسوبينو ته په ټاکلي وخت د اصولو مطابق د چارو ترسره کولو په اړه لازم هدايات وکړل؛ د محکمې د اړتياوو په تړاو يې د ګډونوالو غوښتنې واورېدې او د اړتياوو د پوره کولو ډاډ يې ورکړ.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې رئيس محترم شيخ غلام حضرت (ابوالمنذر) خبرې وکړې او په خپله وينا کې محترم قاضي القضات صاحب ته د اړوند محاکمو د قضائي او اداري اجراآتو د ښه سمون او پر وخت د سرته رسولو ډاډ ورکړ.

د کندهار مرافعه محکمې رئيس زياته کړه، وخت پر وخت له ټولو ماتحت محاکمو نه څارنه او هيئتي کېږي، د دوی قضائي او اداري اجراآت څېړل کېږي او لازمي توصيې او لارښوونې ورته کېږي.

د غونډې په وروستيو کې د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات د قضاتو غوښتنې او نظرونه واورېدل.

غونډه د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.



## د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي رياست له درې مياشتني روزنيز پروګرام څخه (۲۱۹) علماء کرام فارغ شول

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست لخوا د سترې محکمې قضائي برخه کې د خدمت مخکښو متقاضيانو ته د ظرفيت لوړونې له جوړ شوي درې مياشتني روزنيز پروګرام څخه د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په ۲۱مه نېټه (۲۱۹) علماء کرام فارغ شول.

په ياد روزنيز پروګرام کې چې د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست لخوا جوړ شوی و، ګډونوالو ته د مسلکي استادانو لخوا معين القضاة و المفيين، مجلة الاحکام، اداري او حقوقي اصولنامه، تمسک القضاة المانية، اصول الافتاء، د وثايقو لارښوود او نور اړين مضامين تدريس شول.

د يادو علماء کرامو د فراغت په موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) په زمانه کې د قضاء په اړه تفصيلي خبرې وکړې وويل، د عمر (رضي الله عنه) په زمانه کې تر فتوحاتو وروسته د هرې سيمې لپاره قضات ګمارل کېدل، په هغه دوره کې قضاء بشپړه خپلواکه او ډېرې برخې لکه: (ملکي قضاء، نظامي قضاء، د مظالمو قضاء، اداري قضاء او ...) درلودې او په بشپړه خپلواکۍ يې د اسلامي شريعت د احکامو په رڼا کې د خلکو مشکلات او موضوعات حلول.

محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د روزنيز پروګرام فارغينو ته په خطاب کې وويل، زموږ د نظام اساس په تقوا، ديانت، ژمنتيا، امانتدارۍ، اخلاص او صداقت ولاړ دی، خو د دې ترڅنګ د کار استعداد او اهليت ضروري دی؛ بناءً له تاسو مو غوښتنه داده چې ځانونه په يادو ځانګړتياوو سمبال کړئ، ځان کې د کار وړتياوې پيدا کړئ او د قضاء دغه دروند مسؤوليت په ښه ډول ترسره کړئ.

دغه راز د سترې محکمې نظامي مرستيال محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب په ياده غونډه کې وويل، د رب تعالی شکر دی چې د فتنو په دې دور کې يې موږ د اسلامي امارت د سوچه اسلامي نظام په نعمت نازولي يو، په دغه نظام کې خدمت د ځان لپاره غنيمت بولو او دا د الله تعالی احسان دی چې موږ ته يې دا فرصت برابر کړی دی.

محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب فارغ شوو علماء کرامو ته په خطاب وويل، له دې فراغت وروسته به داسې اراده کوئ چې زما په ذريعه به د الله تعالی نظام د الله تعالی په ځمکه قائم شي، ورکړل شوې قربانۍ ضايع نشي او د ټولو شهيدانو ارمانونه پوره شي.

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رئيس محترم شيخ قيام الدين (قانت) د ياد روزنيز پروګرام په اړه وويل، په دغه روزنيز پروګرام کې هغه علماء کرامو ګډون درلود، چې د اسلامي امارت په محاکمو کې يې د خدمت لپاره اړوند کمېټې ته غوښتنليکونه سپارلي وو، د سترې محکمې عالي مقام په هدايت د کارکونکو چارو عمومي رياست لخوا ترې تحريري ازموينه اخيستل شوې وه او په ياده ازموينه کې يې لوړې نمرې درلودې.

د ياد درې مياشتني روزنيز پروګرام ګډونوال محترم مولوي عبدالرشيد صافي وويل، الحمدلله موږ ته په دغه روزنيز پروګرام کې استادانو ډېر ګټور درسونه راکړل او موږ ته يې ټولې لازمي اسانتياوې برابرې کړې وې.

دغه راز د روزنيز پروګرام بل ګډونوال مولوي لطف الله (طارق) وويل، په دغه سيمينار کې د مجربو استادانو لخوا تدريس راته وشو او له دغه پروګرام وروسته موږ د قضاء برخه کې خدمت ته پوره تيار شوي يو.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست لخوا وخت پر وخت د محاکمو قضائي غړو او نوو ګمارل شوو علماء کرامو ته د ظرفيت لوړونې په موخه لنډ مهاله او اوږدمهاله روزنيز پروګرامونه جوړ شوي دي.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۸- عقبه بن عامر ﷺ:**

**درېيمه برخه**

عبدالرحمن بن عائذ د عقبه بن عامر څخه روايت کوي، وايي: چې دی مسجد اقصی ته لاړ، چې لمونځ يې اداکاوه، نو خلکو وليدلو او ورپسې شول، خلکو ته يې وويل: څه کيسه ده؟ هغوی وويل: موږ ستا مجلس ته راغلي يو، چې کوم څه دې له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي هغه ستا څخه واورو، نو ده ورته وويل: نو راشئ او لمونځ وکړئ، ځکه بې شکه ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي، چې ويل يې:« هېڅ يو بنده نشته، چې له الله ﷻ سره مخامخ شي، په داسې حال کې چې له الله سره يې هېڅ شريک نه وي نيولی او هېڅ ناروا وينه يې نه وي تويې کړې، مګر الله به يې په هره دروازه چې دده خوښه وي، جنت ته داخل کړي». ( أسد الغابة:۵۱/۴)
اخذليک: تتمة النظام، ۵۲ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت بامیان تطبیق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیهٔ (یک ولنگ۱) ولایت بامیان بالای یک تن به جرم فراز از منزل؛ به تاریخ ۱۴/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمه ابتدائیه مجرم مذکور را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضورداشت مسؤولین محاکم، ولسوال، قوماندان امنیه، مسؤول استخبارات ولسوالی مذکور و مردم عام تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار متهم در ولایت تخار تطبیق شد

با اساس فیصله محکمه ابتدائیه ولسوالی فرخار ولایت تخار به شمول دو زن بالای چهار تن که متهم بر فعل زنا بودند، روز دوشنبه مؤرخ ۱۸/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در چمن شاروالی ولسوالی مذکور حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمه ابتدائیه از جمله متهمین سه تن را به یک ـ یک سال و شش ـ شش ماه حبس تنفیذی و ـ ۳۹ دُره و متهم چهارم را به پنج سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه با حضورداشت مسؤولین محاکم، مراجعین و مردم محل بالای متهمین تطبیق شد.

## په غزني ولایت کې پنځو کسانو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت جاغوري ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دربیو کسانو ته چې پر لواطت او غلا متهم وو او د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته له کوره د تېښتې او تښتولو په جرم؛ دوشنبې ۱۸/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو کسانو له ډلې دوه مجرمین پر یو ـ یو کال او شپږ ـ شپږ میاشتې تنفیذي بند او ـ ۳۵ دُرو، دري متهمین له دوو کالو تر پنځو کالو تنفیذي بند او له ۳۰ تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو او متهمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم و متهم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصله دیوان جزاء محکمه مرافعه ولایت فاریاب به شمول یک زن بالای دو تن به جرم فرار دادن و فرار از منزل و یک تن به اتهام لواطت؛ روز سه شنبه مؤرخ ۱۹/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزاء یک مجرم را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره، مجرم دوم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره و متهم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضورداشت الحاج مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب، قضات، اعضای قضائی، مسؤولین ملکی، نظامی، علماء کرام و جمع کثیری مردم عام تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت پروان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بگرام ولایت پروان به شمول یک زن بالای دو تن که متهم بر فعل زنا بودند؛ به تاریخ ۲۴/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین ذکر شده را به شش ـ شش سال حبس تنفیذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری به حضورداشت محترم الحاج مولوی میرآقا (ذبیح الله خالد) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پروان؛ ولسوال، قوماندان امنیه، یک تعداد کارمندان ولسوالی و مردم محل تطبیق شد.

## خلاصهٔ گزارش اجراآت ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه طی ماه رجب المرجب(۷) سال ۱٤٤٦ هـ ق

ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه در ماه رجب المرجب سال ۱٤٤٦هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

۱.به تعداد (۸۷۰) جلد دوسیه از محاکم و مراجع مربوطه بشمول (۲۲۳) جلد دوسیه محاکم خاص (هیئت قضائی بر فیصله‌های محاکم ادارهٔ قبلی) به ریاست عالی تمیز مرکز وارد شده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه موجود بود. از آن جمله (٥٦۷) جلد دوسیه غرض تمیز طلبی به دیوان‌های پنج‌گانهٔ این ریاست ارسال شده، (۱۹٤) جلد دوسیهٔ حقوقی خاص و غیر خاص و همچنان (٤۰) جلد دوسیهٔ جزائی غرض تطبیق و به تعداد (۳۰۷) جلد دوسیهٔ متفرقه به محاکم و مراجع مربوطه ارسال گردیده‌است و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد

۲.به تعداد (۳٤٦) قطعه مکتوب از محاکم و مراجع مربوطه به ریاست عالی تمیز مرکز راجع گردیده، در حالی که قبلا نیز چندین قطعه مکتوب موجود بود. از آن جمله (٥۷۱) قطعه مکتوب بعد از اجراآت به محاکم و مراجع مربوطه ارسال شده و به تعداد (۱۰۰) مکتوب باقی‌ماندهٔ دیگر تحت اجراآت قرار دارد.

۳.به تعداد (۷۹٤) قطعه عریضه از طرف اصحاب دعاوی به ریاست عالی تمیز مرکز تقدیم، و ثبت کتاب عرایض گردیده، از آن جمله (٥۹۸) قطعه عرایض بعد از احکام به مسؤولین غرفهٔ عرایض سپرده شد تا برای عارضین تسلیم داده شود، (۹۹) قطعه عرایض غیر مرتبط مسترد گردیده و به تعداد (٥۷) قطعه عرایض ضم دوسیه‌های اصحاب دعاوی گردیده‌است.

٤.به تعداد (۱۱۰۸٦) مراجعین غرض اخذ معلومات به غرفهٔ معلوماتی این ریاست مراجعه که در رابطه به موضوع شان معلومات لازم داده شده.

٥.به تعداد (۱۱٥۲) مراجعین با رئیس صاحب ریاست عالی تمیز مرکزی ملاقات نموده و مشکلات شان حل گردید، و تعداد دیگری شان را به حل مشکلات شان هدایت لازم فرمودند.

٦.رؤسای دیوان‌های پنج‌گانهٔ این ریاست به تعداد (۱۲۰) جلد دوسیه را جهت هدایت و مشورت با رئیس صاحب تمیز مرکزی شریک ساخته که از آن جمله (۹۲) جلد دوسیه تائید و (۲۸) جلد دوسیه غرض غور و بررسی دوباره هدایت داده شده‌است.

۷.به تعداد (۲٥۲) جلد دوسیهٔ محاکم خاص (هیئت قضائی بر فیصله های محاکم ادارهٔ قبلی) را مفتی صاحبان این ریاست با رئیس صاحب تمیز مرکزی شریک نموده، که از جمله (۱۱٤) آن تائید و غرض تطبیق به مراجع مربوطه‌اش ارسال شده، به تعداد (۱۳۸) جلد دوسیه مسترد و غرض اجراآت شرعی و قانونی به محاکم مربوطه ارسال گردیده‌است.

۸.در همین ماه دوبار جلسهٔ اداری دواوین ریاست عالی تمیز مرکز برگزار شد که در رابطه به موضوعات مورد بحث تصمیم گرفته شده‌است.

۹.در ماه رجب المرجب پیرامون شش حکم جناب عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) اجراآت صورت گرفته‌است.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست لخوا د مرکزي دېوانونو او ریاستونو له کارکوونکو د اخیستل شوې کلنۍ ازموینې پایلې اعلان شوې

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد عمومي ریاست لخوا د سترې محکمې د ټولو مرکزي دېوانونو او ریاستونو له کارکوونکو څخه د تدریس شوو مضامینو د اخیستل شوې کلنۍ ازموینې پایلې په (۱۴۴۶/۸/۲۵ هـ ق) نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې اعلان شوې.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د دعوت او ارشاد ریاست مدیر مولوي نجیب الله (مستغفر) د اسلامي نظام، د دعوت او ارشاد ریاست په ارزښت او د دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو په تړاو ګډونوالو ته لنډ معلومات وړاندې کړل وویل، د دعوت او ارشاد ریاست پنځه درسي او اصلاحي حلقې لري، چې دوې حلقې د نالوستو کارکوونکو، یوه حلقه د لوستو کارکوونکو او دوه نورې حلقې د مجاهدینو د قطعې لپاره منظم نصاب تدریسوي.

نوموړي زیاته کړه، د دې ترڅنګ په اونۍ کې دوه ورځې ټولو کارکوونکو ته اصلاحي بیان، هره میاشت د محاکمو د دعوت او ارشاد ریاستونو له فعالیتونو څارنه، په ټولو ولایتونو کې د دعوت او ارشاد د آمرینو په مشرۍ تدریس یې له مهمو فعالیتونو څخه دي.

ورپسې د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د انسان د خلقت، د لمانځه د ارزښت، د ژوندانه د ناخوالو د لاملونو او د دعوت او ارشاد ریاست د ارزښت اړوند هر اړخیزه وینا وکړه وویل، انسان کمزوری خلق شوی، له پیدایښت وروسته نفس او شیطان ورسره ملګري شول او ترڅنګ یې خواهشات، نفسیات، غوسه او عقل ورکړل شول، ترڅو په خواهشاتو سره منافع راجلب کړي، په نفسیاتو سره له بې غیرتۍ وژغورل شي، په غوسې سره خپل حق ترلاسه کړي او په عقل سره دا دري واړه خاصیتونه کنټرول او له تجاوز یې را وګرځوي.

محترم شیخ صاحب زیاته کړه، لمونځ له فحشا او منکر څخه راګرځوونکی عبادت ځکه دی چې په لمانځه کې د الله تعالی ذکر، خشوع او خضوع، د قرآنکریم تلاوت او اخلاص شتون لري، چې دا ټول د دې لامل کېږي، ترڅو انسان له بدو کړنو را وګرځوي او له الله تعالی سره یې اړیکه جوړه کړي.

دغه راز د سترې محکمې اداري مرستیال وویل، د انسان په بدن کې زړه حاکم او واکدار دی، چې ټول ظاهري او باطني حواس مدیریت کولای شي او که اصلاح شي انسان له منکراتو، کینې، کبر او بدیو څخه ژغورل کېدای شي.

نوموړي د دعوت او ارشاد ریاست د ارزښت په تړاو وویل، د دعوت او ارشاد ریاست د مخلوق اړیکه له الله تعالی سره جوړوي او د عبادتونو د سمون لاره راته برابروي، ترڅو له ناخوالو وژغورل شو.

د غونډې په پای کې د دعوت او ارشاد ریاست له خوا په یاده ازموینه کې په اول، دویم او درېیم مقام بریالیو کسانو ته په پام کې نیول شوې نغدي جایزې ووېشل شوې.

غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## دکابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۶۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۶۱) وثیقې هم اجراکړې دي

دکابل ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو او د وثایقو آمریتونو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹ /۷ / ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۲۶۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۶۱) وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د جزائي دوسیو په برخه کې:**

دکابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې (۱۳۰۱) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د حقوقي دوسیو په برخه کې:**

دکابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې (۵۹۴) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د تجارتي دوسیو په برخه کې:**

دکابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې (۷۶۸) تجارتي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د وثیقو په برخه کې:**

دکابل ښار د وثیقو او سندونو د ثبت آمریتونو او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (۲۸۶۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایات پروان و جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۸۲) دوسیه، به تعداد (۳۲۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایات پروان و جوزجان، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۶) دوسیه حقوقی وارد محاکم ولایات پروان و جوزجان گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسیه فیصله شده، (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم ولایات پروان و جوزجان گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۳) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایات پروان و جوزجان به تعداد (۳۲۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایات فاریاب و غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۸۱) دوسیه، به تعداد (۴۹۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایات فاریاب و غور، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی، اختصاصی و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم ولایات فاریاب و غور گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۲) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۳۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم ولایات فاریاب و غور گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۰۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۰) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایات فاریاب و غور به تعداد (۴۹۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۹۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۵۱) وثیقې هم اجراکړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۳۳۹) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۵۱) وثیقې یې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۱) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۸) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۸۴) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵۰) دوسیې فیصله شوې،(۲۱) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۶۰) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۲) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۵۱) بېلا، بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۰۵) دوسیه، به تعداد (۱۶۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمه مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۳) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۲) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۲) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۶) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۱۶۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## دکابل ولایت مرافعه، د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې استینافي دیوانونو، د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه او اختصاصي محاکمو د ۱ /۸ /۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵ /۸ /۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې د اجرااتو راپور په لاندې ډول دی:

**د مرافعه محکمې دېوانونو اجراآت:**

دکابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونیو کې (۱۱۵) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۱۷۰) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۳۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**اختصاصي محکمې اجراآت:**

اختصاصي محکمې ته په دوو اونیو کې (۳۴) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۸۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۴۳) وثیقې هم اجراکړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري، د بلخ زون نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۹/ ۸/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۱ /۸ / ۱۴۴۶هـ ق نېټې) پورې (۴۸۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۴۳) وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

په حقوقي برخه کې:

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۹۳) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۸۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۴۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۳) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۴۳) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس پروان ولایت ته د سفر پر مهال د (۵) جزائي دوسیو په اړه وروستۍ ځیړنې بشپړې کړې

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) چې د یاد دیوان مفتي صاحبانو (مفتي عبدالحی شاکر، مفتي محمد حصین او مفتي فضل الرحمن قاسمي) یې ملتیا کوله، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړې هدایت د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۱۸مه، ۲۵مه او ۲۶مه نېټه د یو شمېر جزائي دوسیو په اړه د وروستیو ځیړنو بشپړولو په موخه پروان، لغمان او ننګرهار ولایتونو ته سفرونه وکړل. د جزا دیوان عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي د دغه سفرونو پر مهال د یادو ولایتونو مرافعه محاکمو له رئیسانو او اړوند نورو محاکمو له قضائي غړو سره وکتل؛ په دې لیدنو کې د (۱۴) جزائي دوسیو په تړاو د وروستیو ځیړنو بشپړولو په موخه تفصیلي خبرې وشوې. دغه راز محترم مفتي عتیق الله (درویش) او ورسره مل پلاوي د یادو دوسیو اړوند جانبینو سره په جلا جلا ډول وکتل او له دوی یې د اړوند مواردو په اړه بشپړ تحقیقات وکړل. د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د دغه سفر پر مهال د یادو ولایتونو د محاکمو قضائي مسؤولینو ته هدایت وکړ چې د مراجعینو دوسیې د شرعي احکامو په رڼا کې په ټاکلي وخت حل او فصل کړي. د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د جزا دیوان رئیس له دې مخکې هم د جزائي دوسیو په اړه د وروستیو ځیړنو بشپړولو په موخه د هېواد ډېرو ولایتونو ته سفرونه کړي دي.

## حکم جزای تعزیری بالای (۱۱) مجرم و متهم در ولایت نیمروز تطبیق شد

به اساس فیصله دیوان جزاء محکمه ابتدائیه شهری ولایت نیمروز بالای چهار تن به جرم چور و چپاول و داشتن روابط نامشروع و هفت تن دیگر که متهم بر سرقت بودند؛ روز یکشنبه مؤرخ ۱۷/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در استدیوم ورزشی شهید حقانی حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزاء مجرمین و متهمین مذکور را از یک سال الی شش سال حبس تنفیذی و از (۲۰ الی ۳۹ دُره) جزای تعزیری محکوم نموده بود.

این فیصله بعد از تائید مقام عالی تمیز زون جنوب غرب و معاونیت قضائی ستره محکمه تطبیق گردید.

در گردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود، قضات محاکم، مسؤولین ملکی و نظامی ولایت نیمروز، مجاهدین و اهالی شهر زرنج اشتراک داشتند.

این گردهمایی با تلاوت کلام الله آغاز شد؛ بعداً مولوی قدرت الله رفعت رئیس دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری پیرامون تطبیق احکام الهی و توصیه به عموم خلق الله جهت اصلاح اعمال خویش، بیانات علمی ایراه نمود.

## په خوست ولایت کې (۱۸) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان د پرېکړې له مخې ځلورو کسانو ته د لواطت په تور او د څلورو ښځو په ګډون څوارلس کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم؛ په ۲۴/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دیوان یادکسان له یو کال څخه تر اووکالو تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د خوست ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم الحاج مفتي امین الله (منیب)، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي نقیب الله (ذاکر)، د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو قضائي، اداري او نظامي منسوبینو او یو شمېر عامو هېوادوالو ګډون درلود. جوړه شوې غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس د یو شمېر جزائي دوسیو په اړه د وروستیو ځیړنو په موخه بلخ ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) چې د یاد دیوان مستشار مفتي قدرت الله (سیرت) یې ملتیا کوله، د مرکزي تمیز عالي ریاست په هدایت د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۲۳مه نېټه، بلخ ولایت ته د درې ورځني رسمي سفر پر مهال د دربیو دوسیو په اړه وروستۍ ځیړنې بشپړې کړې.

د عامه امنیت دیوان رئیس د دغه سفر پر مهال د بلخ ولایت د مرافعه محکمې له رئیس او د عامه امنیت دیوان له قضائي غړو سره لیدنه کې د یادو دوسیو اړوند تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) د دغه دوسیو جانبینو سره هم وکتل او له هغوی یې لازم تحقیقات ترسره کړل.

د سترې محکمې یاد پلاوي د دغه سفر پر مهال راټول کړې معلومات او ځیړنې د سترې محکمې مرکزي تمیز عالي ریاست له مقام سره شریک کړل.

## د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند خالد بن ولید (رضي الله عنه) تعلیمي قوماندانۍ له څلورمې دورې څخه (۱۰۸) مجاهدین فارغ شول

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند خالد بن ولید (رضي الله عنه) قوماندانۍ د نظامي او مسلکي زده کړو له څلورمې دورې څخه په (۲٤/شعبان المعظم/١٤٤٦ هـ.ق) نېټه (۱۰۸) مجاهدین فارغ شول.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب؛ د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) صاحب، د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو رئیس محترم مولوي محمد عوض (سعید)، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو نورو رئیسانو او د نورو امارتي ادارو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

غونډه د حافظ مولوي حضرت ولي لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب مجاهدینو ته له نظامي مسلکي زده کړو څخه د فراغت مبارکي ورکړه وویل، اسلام په څو ځانګړو اصولو لکه (اطاعت، شورا، اخوت او یووالی) ولاړ دی.

محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د یادو اصولو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته مجاهدینو ته په خطاب کې وویل، ځانونه عادي انسانان مه ګڼئ، تاسو د اسلامي نظام د حفاظت او د الله تعالی د بندګانو خادمان یاست؛ تاسو، ستاسو لباس او ستاسو نښان عادي خبره نه ده، بلکې دا ټولو کفارو او منافقینو ته اخطار دی، ځکه دا لباس اسلامي نظام درکړی، چې موخه یې د مسلمانانو د عزت، مال، ناموس او ټولو شرعي حقونو ساتنه او تأمین دی.

د غونډې په دوام د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) نویو فارغینو ته مبارکي ورکړه وویل، د اشغال پر خلاف شل کلنه مبارزه د دوو موخو لپاره وه (لومړی شریعت، دویم د اسلامي نظام اقتدار) دا دوه موخې ځکه اړینې دي، چې شریعت د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) د اوامرو او قانون مجموعه ده او د تطبیق لپاره یې اسلامي نظام او اقتدار ته اړتیا ده.

محترم مفتي درویش صاحب زیاته کړه، د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د شریعت د احکامو د تطبیق او اسلامي نظام د حاکمیت لپاره خپله هم جهاد او مبارزه کړې ده؛ الحمدلله زموږ دغه مبارزه بریالۍ او د الله تعالی په ځانګړې نصرت موږ دواړه موخې ترلاسه کړې او نن د اسلامي نظام تر حاکمیت لاندې د شریعت احکام تطبیق کېږي.

د جزا دیوان عمومي رئیس مجاهدینو ته په خطاب کې وویل، تاسو خوشبخت او بریالي خلک ځکه یاست، چې د اسلامي نظام د ستر ارکان (محاکمو) د ساتنې او د محاکمو د شرعي پرېکړو د تطبیق افتخار او مسؤولیت لرئ.

دغه راز د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست امام محترم مفتي عبدالباري (داعي) غونډې ته د انسان د پیدایښت په اړه تفصیلي خبرې وکړې وویل، انسانان د خاص مقصد لپاره چې د الله تعالی عبادت او بندګي ده پیدا دي؛ ترڅو نېک اعمال ترسره کړي او له منکراتو څخه ځان وساتي.

محترم مفتي عبدالباري (داعي) زیاته کړه، که غواړو چې ایمان مو سلامت او الله تعالی ته نږدې شو نو د الله تعالی د دین ټولو احکامو ته باید ژمن پاتې شو، دا کلک عزم ولرو چې تر مرګ او وروستۍ سلګۍ به د دین حفاظت او ساتنه کوو.

یاده غونډه مجاهدینو ته د تصدیق پاڼو له ورکړې وروسته د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ عبدالمالک(حقاني) صاحب لخوا د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) لخوا د دغه ریاست مجاهدینو ته منظور شوې نظامي جامې او د فارغو شوو مجاهدینو لخوا نظامي مسلکي حرکات هم ننداري ته وړاندې شول.

## پکتیا ولایت محاکمو د مسؤولینو په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل شپږ کلنه دښمني پای ته ورسېده

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مفتي عبیدالله (خالد) او د یاد ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي نورالله (عرفان) په ډېرو هڅو، د قومي مشرانو او علماء کرامو په منځګړیتوب په ۱۷/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل شپږ کلنه دښمني حل او فصل شوه.

یاده موضوع شپږ کاله وړاندې په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ پېښه شوې وه؛ چې دښمني یې تر اوسه پاتې وه.

دغه موضوع محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور د یادې پېښې دواړو لوریو د اړوند محاکمو له مسؤولینو وخېړل شوه، د محاکمو مسؤولینو دواړه لوري سولې ته وهڅول او له روغې جوړې وروسته د محکمې په ابلاغ شوې پرېکړه یې قناعت وکړ او موضوع یې په رسمي توګه پای ته ورسېده.

څخه مننه وکړه چې د دوی ترمنځ څو کلنه دښمني یې په دوستۍ بدله کړه او په دې برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳